# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| سیاسی | Political |



انجینر داؤد اڅک

۰۱ می ۲۰۲۵

## د انتقاد واري



نن مي په فیسبوک کي یو خبر ولوست چي د کابل فعال او تکړه ښاروال د خپل کاري ټیم سره کندهار ته غوښتل سویدی، څو په کندهار کي د چوک مدد څخه تر باغ پل پوري نوی سړک ډیزان او چاري ئې پیل کړي. د خبر په اوریدو سره ډیر خوښ سوم چي په کندهار کي هم څه پرمختګ وسي. خو پر بل اړخ قلباً ځکه خوا بدی سوم چي په ټول لوی کندهار کي د یوه سړک جوړولو لپاره مسلکي انجنیر نسته؟

او تشویش را ولوېدئ که معامله داسي روانه وي نو د کندهار، په ټوله کي د افغانستان راتلونکې به څنګه کیږي؟

څو بالاخره مي په همدې تشویش کی د زړه براس تر خپل صمیمي انډیوال (قلم) وایستئ او لاندي څو بیته مي په ولیکل:

## جوړیږي

نه په سړک نه په توپک جوړیږي

وطـن پـه علـم محبـت جـوړیږی

زه بـه بـازار او مارکـيت څه وکړمه
چې نه غيران نه مي نيمک جوړيږي

دا ښـېـرازې وي مــوقــتــي اکــثــره
اصلي بنسټ خو په حکمت جوړيږي

هره بريا به لمانځو فخر به کړو
ژوند په قلم او کتابـت جوړيږي

زمـوږ افـغـاني او با حيـا ملالي
ځغلي بهر په پنجابک جوړيږي

که څوک رشتيا زموږ د عزت خيال ساتي
نـو زمـوږ عـزت خـو پـه مکتب جوړيږي

کار چـي د کـار اهـل ته نه وسپارې
نو سنګړبيت خراب حالت جوړيږي

کـه يـــو ذره احـســـاس لـــري داؤده
وطن په عشق ملي وحدت جوړيږي

*****

سنګړبيت = ګډوډ – بد رنګه – بد خونده